Source: www.constitution.org



# لیتو الـه

Ketabton.com

## یوه لنډه پېژندنه

ليکونکي: ليوډ سپينسر او اندرسېج کراوسې

ژباړه: نورالله اتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرېږدئ چي رڼا شي

لیتواله د روښاندۍ هغه څرېکه وه چي په ۱۸ پېړۍ کښې ټولې اوروپا راوبوږنوله. ټېکانه خو يې په پاريس کښې وه مګر ټولې اورپا ته وغزېدله او ان هغو ټاټوبيو ته ورسېدله چي اوروپايانو په امريکې کښې جوړ کړي ول. ليکوالانو او روشندويانو ۱۸ پېړۍ ته د رڼا يو پرتمين سوچ ورکړۀ.

د ليتوالې روشندويانۀ انګېرله چي دوي د يوۀ داسي ستر غورځنګ غړي دي چي د بشر د سترۀ هيلۀ او ځواکونۀ استازيتۀب کوي. دوي داسي سمون غوښتونکي ول چي په دې پوره پوره ډاډه ول چي خپل ګاي د ريښتينيۀ، کره کتنې او ورسې په مټ زباتولاي شي.

Source: www.henri-iv.com



(لوي شپاړسم)　(لوي پينځلسم)　( لوي څوارلسم – لمرين باچا)　(لوي ديارلسم)

# د ټۀلواکانۀ ځلا

د فرانسې ټۀلواکانۀ لکه لوي ديارلسم (۴۳ – ۱۶۰۶)، لوي څوارلسم – لمرين باچا (۱۷۱۵ – ۱۶۳۸)، لوي پينځلسم (۷۴ – ۱۷۱۰) او لوي شپاړسم (۹۳ – ۱۷۵۴) له پاريس څخه د ګردې نړۍ پلازمينه جوړه کړه، او په همدغه وخت کښې يې د فرانسې ليتوالې لره هم اورېدونکي و پينځول او هم يې موخه ورله وټاکله.

د ليتوالې ژبه فرانسوي وه. هرڅه چي به په فرانسوي کښې خپارۀ شول هغۀ به د ټولې اورپا لوستې او پۀهې ټولنې ته د منلۀ وړ ول. کومې پرتمينې او سترې ليکنې چي به په لومړي سر کښې په فرانسوي نۀ وې ليکل شوې هغه به په زغرده دغه نړۍواله ژبه کښې ژباړل کېدل. په ټوله نړۍ کښې « د پۀهې ښتنانۀ » به ويل چي دوي ټول د فرانسوي ليکوالانۀ شاګردان دي.

په دغو انديالانۀ کښې لکه د سکاټلنډ د ډېوېډ هيوم او ادم سميت، د امريکې له ټاټوبيو څخه بينجمين فرانکلين او تامس جېفرسن او له ميلان څخه سېسار بېکاريا او داسي نور ول. کله چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

به دوي د پاريس په سالونو کښې ومنل شول نو دوي به ويل چي ايله اوس سم ځاي ته راورسېدل.

د اوروپا په درسته وچه کښې کانون پوهانو او شتمنې بورژوا فرانسې ته د يوې بېلګې په سترګه کتل.

د سسېکس يوه ودان ځمکه وال خپل زوي ته په ليک کښې وليکل: « که څوک په فرانسوي پوهيږي نو په ډاډه زړه د ټولې نړۍ سيل کولاي شي او هيچېري به د ژبې ستونزه و نه لري ځکه چي د فرانسوي ژبې ويونکي هرچيري شته، او هم به ډېر ښه ملګري پيدا کي. بله هيڅ ژبه داسي نه ده.»

## د ليتکي لومړني بڅري

په ۶ مارچ، ۱۷۰۶، لارډ شافټسبري په خپل ليک کښې لا کلېرک ته داسي وليکل:

« يوه برېښنده رڼا په درسته نړۍ خپريږي، په تېره بيا د اينګلستان او هالنډ په دوو ازادو هيوادونو باندي د چرته نه چي اوس د ټولې اوروپا چارې سرچينه اخلي.»

د ۱۷ پېړۍ په زياتره برخه کښې هالنډ په اوروپا کښې ازادترين هيواد و. امسټرډم هر ډول ازادسوچو او هغو کسانو ته چي له خپله دينه اوښتي ول پنا ورکوله. په ۱۶۶۷ کښې د انګرېز فلسفي جان لاک (۱۷۰۴ – ۱۶۳۲) يوه ليکنه د زغم په اړوند (An Essay on Toleration) وليکله. هغه د هغو پروټسټنټانو ډېر نيژدې ملګري و څوک چي د کاتوليکي باچا جېمز دوهم (۱۷۰۱ – ۱۶۳۳) سره سخت چپ ول.

په ۱۶۸۳ کښې جان لاک اړ ايستل شو چي د هالنډ روټرډم ته تېښته وکوي. هغه هلته خپلې سترې ليکنې لکه، د انساني پوهنې په اړوند ليکنه (Essay Concerning Human Understanding) او د سرکار دوه تړونونه يا (Two Treatises of Government) وليکلې. دغه دواړه کتابونه د هغې ورسې په سر کښې ول کومه چي د ليتوالي په ټول پېر کښې خورا ګرمه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Source: britannica.com



ویلیم دریم او مېري دویمه

# د اینګلستان « پرتمینه اوښتنه»

د اینګلستان پارلیمان د جېمز دویم له کاتولیکي پلوۀ کارونو خوښ نۀ ؤ نو ځکه خو یې هالنډي پروټسټنټ ویلیم دریم د اوُرېنج (۱۷۰۲ – ۱۶۵۰) او د هغۀ انګرېزې مېرمنې مېري دویمې (۹۴ – ۱۶۶۲) ته بلنه ورکړه چي د اینګلستان پر تخت باندي کښېني. هغوي هم له هالنډ څخه د اوُبو له لارې اینګلستان ته راغلل او د وینې له بهولو پرته خو د کال ۱۶۸۸ « پرتمینه » اوښتنه یې بریا ته ورسوله.

دغې اوښتنې په ښکاره توګه د انګرېزي پارلیمان خپلواکي پخه کړه او په لومړي ځل یې اینګلستان ته د « ربښتو لاسوند» یا "Bill of Rights" هم ورکړ. دغسې نوُرو سمونو ډېر په زغرده اینګلستان په درسته اوروپا کښې ازادترین هیواد وګرځولو. د زغم کانون (۱۶۸۹) د کوبکرانو په ګډون ډېرو پروټسټنټانو ته په ازاده توګه د خپلې ګروهې اجازه ورکړه مګر لا هم هغوي ته د دولتي چوکۍ ترلاسه کولو اجازه نۀ وه. د اینګلستان کلیسا چي په ځانځانې توګه په ګروهې او پوُهنې کوم واک لرلو هغۀ یې وبایللو. په کال ۱۶۹۵ کښې هغه وروستې واک هم له لاسه ووتلو چي چاپ به یې تر خپل ګورت لاندي ساتلو.

د ربښتو لاسوند وړاندي کیږي



Source: www.thegloriousrevolution.org

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوښتنو پېر

دوه ستري پلازمېنې، پاريس او لندن، دواړه په ۱۸ پېړۍ کښې په نابېره توګه ډېر په زغرده پراخې شوې. مګر د غښتلي سوداګر اينګلستان پراختيا نوره هم زياته مانا لرله. د همدغې پېړۍ په لومړنۍ نيمايي کښې اينګلستان د کرنې اوښتنه (Revolution) وليدلو او په دېمه نيمايي کښې د اينډسټري اوښتون ورپسې ؤ.

په ۱۷۷۶ کښې په امريکې کښې ټاټوبي رااوچت شول او له انګرېزي ستروواکۍ سره يې ډغره ووهله. د اوښتون په پايله کښې يو د امريکې ستر ملت راڅرګند شؤ.

د بوسټن ټي پارټي: هغه ستره وژنه چې د امريکې د اوښتون پيلامه شوه




Source: www.blog4history.com

يوه لسيزه وروسته په ۱۷۸۹ کښې اولسي پاڅون نه يوازې په فرانسه کښې بلکې ټوله نړۍ يې کچه يو داسي اوښتون راوستلؤ چې اغېزې يې لا نن هم رواني دي راڅرګنديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




Source: library.brynmawrschool.org

د دغو اوښتنو په راتګ سره د ليتوالي د غوځنګ د سرخېلانو او انديالانو ته لاره هواره شوه چي خپلي لوړې هيلي اوس د ټولني د ښېګړې لپاره په کار واچوي.

## سماوارونه، دېري او رسنۍ

په دغو شپو او ورځو کښي د اولسونو راشه درشه هم خورا پراخه شوې وه او د دې ترڅنګ د رسنيو ليکوالان هم ډېر تکړه شوي ول او په زړه پوري ليکني به يې کولې. سماوارونه په لندن کښي د روښندويانو او انديالانو د ژوند برخه ګرځېدلي ول. په ۱۷۴۰ کښي يوازي په وېسټ مينسټر سيمه کښي تر ۴۰۰ زيات سمارونه ول. انن د اينګلستان نوي پانګ او د ختيځ هند سوداګري ګډوالي (شرکت) هم له دغو سماوارونو څخه ګټه اخيستله. لويډ سماوار (Lloyd's coffee-house) په ۱۶۹۱ کښي لويډ اف لندن شو چي د سمندري بيمې يو منځي ؤ.

**په دغو سماورانو کښي به هر ډول راشه درشه کېدله، لکه:**

- وګړو به د سود سودا کارونه کول او د هر ډول ټوکو راکړه ورکړه به کېدله.
- دلته به بېلابېلي ورځپاني او مهالنۍ هم وې چي ناستو کسانو به لوستلې او بيا به وراسه ورباندي کوله
- بېلابېلو کسانو د خپل خوند او باړ سره سم ټولني جوړې کړې وې، لکه سايسنپوهان، هونرمندان او سياستوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لویېز سماوار یو کېنل شوي انځور**



Source: www.concurringopinions.com

د جان لاک په شان ستر اندیالان به هم دغۀ سماورارونۀ ته راتلل. په همدې سماورانۀ کښې هغه دې پایلې ته ورسېدلۀ چې ژبه هم د پوهنې درسته ده او د پوهنې په لاره کښې یو خنډ هم دي.

د پۀهانۀ ژبه گرانه وي نۀ ځکه خو اولس نۀ پرې پوهیږي.

جان لاک په پاي کښې داسي پرېکړه وکوله:

# « پکار ده چي زه خپل چورتونه او اندونه په دومره اسانه ژبه ولیکم چي هر یو لوستونکي وکولاي شي چي ځان پرې پوه کي »

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جان لاک « پاکه تخته »



*source: http://images.google.co.uk*

په ګرده ۱۸ پېړۍ کښې د هرچا لپاره، که به فلسفي ؤ او که به نهٔ ؤ، د جان لاک کتاب « ***د اینساني پوه □ په ا□وند یوه لیکنه*** ۱۶۹۰» یا *(essay concerning human understanding)*خو به یې هرو مر لوستلؤ. کابو د لیتوالې (*Enlightenment*) د هر اندیال لپاره د لاک «پاکه تخته» (*tubual rasa*) ډېره له مانا ډکه وه. لاک به په ډېره ځواکمنه تؤګه ویل چې د اینسان سوچ د زوکړې په مهال لکه یوه سپینه او پاکه تخته وي. نهیرونه (*Ideas*) په اینساني خمیر کښې په ژوره تؤګه اغښلي نهٔ وي بلکې هغهٔ یې له خپله چاپېریاله زدکړه کوي. لنډه دا چې ټوله اینساني پؤهه په تجربې باندي ولاړه ده.




source: *http://2.bp.blogspot.com*

(c) ketabton.com: The Digital Library

جان لاک به ویل: راځي چي داسي وګڼو چي دماغ د یوهٔ سپین کاغز په شان دي، چي هیڅ نهیرونه (*ideas*) نهٔ لري؛ نو چي نهٔ یې لري نؤ بیا دا سدبد له کومې خوا راځي؟ دا دومره بې پایه او رنګارنګ چورتونه او اندونه راځي له کومې چي اینسان لګیا وي او په دغه سپینه تخته باندي یې کرښنه کوي؟ د دغې پوښتنې ځواب بس په یوهٔ ټکي کښې ورکېدلاي شي، **تجربه**.

د لاک دغه د تجربه (*empiricism*) د رېني دیسکارټس (۱۶۵۰ – ۱۵۹۶) له سنجوني (*rationalism*) مخامخ په ټکر کښې وه چي ویل به یې داسي نهیرونه شته ( د بېلګي په توګه خداي، سوچ او بدن یا درې کونجه) چي ریښتینولي یې یوازي د سدبد د رڼا په مټ پېژندل کېدلاي شي. نؤ لځکه خو «لاندېزن» ورته ویلاي شو.


*Source:  http://www.daviddarling.info/images*

مګر لاک هم تجربه په دوؤ بېلؤ ډولونؤ وېشله: بهرني هوښ *(external sensation)* او دننه هیندارونه *(internal reflection)*

فیلوسوف اېټاینې کونډیلاک (۱۷۱۵ – ۸۰) په فرانس کښې د لاک فلسفه نؤره هم په اولس کښې نامتو کړه.هغه په خپله لیکنه *(Essai sur l'origine des connaissances)* کښې په د هوش یا اوسانو په رؤل خورا ټینګار کولؤ.

هغه به ویل: دغه د «هوش» اند بېخي هغسې دي لکه څنګه چي لا مېټغاي او دیهولباخ د اینسان د خوي بوي په هکله کوم اند وړاندي کړي دي چي بنسټ یې متروال (*materialist*) دي.

پخپله لاک بیا د هیندارونې رول ټینګار کولؤ او د ماغ د وړتیاؤ رول یې هم منلؤ. له دې سره هغه په موړ کښې دننه په هغې تلوسې باندي هم باور لرلؤ چي موړ په خوشالی پسې ګرځو او له کړاو څخه ځان ساتو. مګر کونډیلاک بیا دا ګایونه نهٔ منل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې د تنګوالي پېژندنه

له پېړيو پېړيو راهيسې پوهنيزه زېرمه د شيخانو او پيرانو په لاس کښې وه. په کليسا کښې د ښو خويونو او ښو کړنو ژبې خورا وده کړې وه. خو لاک چي بيا ايناسني پوهې ته په کومه سترګه کتل له هغو څخه د يوه نوي ډول ژبه راوزېږېدله. يوه داسي ژبه چي زموږ دننه نړۍ يې رسپړله، کېدلاي شي موږ ورته روانپېژندنه *(psychology)* ووايو، هغهٔ ټکي چي په ۱۸ پېړۍ کښې ډېر نهٔ کارول کېدلو. لاک د ښوونکو په هغې ژبې باندي نيوکې وکولې چي بس تش د ګرانو، ناڅرګندو او ګډووډو توريو او ټکيو د جال په شان به وه او پر ځاي يې د پوهې د هغې لوي وچې په کچمېچه پيل وکولو چي اينسان په دننه کښې غوړېدلې او غزېدلې پرته وه.

هغهٔ به ويل، زموږ پوهه لنډه او تنګه ده. راځي چي دا لنډ او تنګ بريدونه ومنو. وروسې راځئ چي په دغو لنډو او تنګو پولو کښې دننه زياته تر زياتې پوهه ترلاسه کو. دا کار به هغهٔ مهال وکولاي شو کله چي د پوهې څېړنه وکوو او وېې پېژنو چي پوهه څنګه کار کوي. پکار ده چي موږ يې وڅارو چي زموږ نهيرونه څنګه رغيږي او څنګه يوتربله يوکيږي، او بيا څنګه په ياد کښې پاته کيږي. په دې ګرده چاره کښې موږ تراوسه پوري بېخي ناآګاه يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## روانپېژندنه او ناول

کومه روانپېژندنه چي په ۱۸ پېړۍ کښې پېژندل شوې وه هغې کچ مېچه او سکښت د لاک لخوا شوي ؤ. د لاک لیکنه د ادب د هغه ډول سرچینه ګڼل کیږي چي ټول کار یې د « خپل ځان» له راشې درشې سره دي؛ داسي راشه درشه چي په «ځان» باندي اغېزې کوي ، په یوې ځانګړې سمچې کښې یې اچوي او داسي یې سکښي چي بېخي یوه ځانګړې بڼه غوره کوي.

په همدغه وخت کښې لارنس ستیرن (۶۸ – ۱۷۱۳) **د ټریسترام شاندي ژوندون او لېمون** *(The Life and Opinions of Tristram Shandy)* لیکلؤ. د لاک لیکني په ادبي سدبد (فکر) ته دومره ژور ننوتلي ؤ چي تراوسه پوري بلې هیڅ فسفي لیکني دا کار نهٔ کړي ؤ او نهٔ یې کولاي شؤ. پخپله د ښاغلي ستیرن په ناول کښې د لاک د ستړې لیکنې انځور له ورایه بریښي.

د لاک اغېزې تر ښؤونځؤ او پؤهنتونؤ ډېر لیري لیري د لیکوالؤ ټولنؤ او لوستونونؤ ته ورسېدلؤ. اوس ډَولي اندیالانو *(fashionable intelligentsia)* د لاک له «نهیرونه او اندونه» پرته بېخي ګوزاره نهٔ شوه کولاي.

## داستان د ریښتیاؤ په چوپړ کښې

په ګرده ۱۸ پېړۍ کښې فلسفې او داستان په پرلپسې تؤګه پټپټاني وبله کولؤ. دغه ناول کښونکي زیاتر د هغه دؤد زېږنده ول چي د روم له ستړواکۍ سره یې تړاو لرلؤ. مګر د لیتوالې (*Enlightenment*) په پېر کښې داستان ته نوې او بېړنۍ دندې ور په غاړه شوې.

ناول له یوهٔ داسي پېر سره بېخي ښه سمون خوړلؤ په کوم پېر کښې چي یوهٔ وګړي د خپل ځان لپاره په نړۍ کښې ځانګړې او جلا لاره غوره کولاي شوه. هغؤ لوستونکؤ چي اګاهي او تلوسه یې ورځ په ورځ په چټکۍ سره پراخېدله د داسي کیسؤ او داستانونو کوت (انتظار) کولؤ چي هم به په ازموینه باندي ولاړ ول او هم به بې ساري به ول. کوم نهیرونه او سؤچونه چي به رازېږېدل لیکوالانؤ به لومړي هغه تر ازمؤینې او کتنې لاندي نیول؛ ادبي کړهٔ وړهٔ به یې لومړي مېچل او تلل او بیا به یې د ژوند له ریښتونیو اړخونؤ او لؤري لؤدن سره پرتله کول.

د لیتوالې د ناول نکل به د یوهٔ ځانګړي کس په ژواک راګرځېدلؤ. په کیسه کښې به د نړۍ د نابېرؤ پېښؤ د هغؤ اغېزو څارنه کېدله چي په یوهٔ وګړي باندي به د راشې درشې په ترځ کښې کېدلي. ښاغلي **دیفوک** به ویل، چي بیا بیا د **لاک** هغه ویل زباتیري چي هر څه چي موږ ته راپېښیږي نو هله خو موږ ترې رغیږي؛ موږ همدغه څه یو بل څه نهٔ یو.

### هپې او غدی (*Adventures*)

په ۱۸ پېړۍ کښې ډېر اتلان او اتلانې پیدا شوې چي د نړۍ بېلابېلؤ سیمؤ ته به یې له سرابښتؤبه ډک مزلونه او سیلونه کول – په دې هیله چي ګوندي په داسي مزلؤ به یې خپل ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو څه شه شي. هغوي چي به کله له دوښمن، درغلۍ او وَرلا (*sex/seduction*) سره مخامخ شول نؤ د خپل برَم او نامه چورت به ډېر نۀ وهلؤ بس خپله مؤخه به وهله.

مورِ وینو چي زیاتره په دغؤ ناولونؤ کښي ځانګړي کیردار د شؤ او بدؤ له یوې ستونزې سره مخامخ وي، او په دوه کښي هک پک ولاړ وي. زیاتره دوي نابېره او ځاي پرځاي داسي کړښي کښلي دي چي مورِ ته هر هغه خوزښت راښیي چي دوي یې هڅه کوي، او هر هغه تپاک او باړ (*impulse*) راښکاره کوي چي د دوي په ګوګل کښي توسيږي.

# د فلسفیانؤ ناولونه

د لیتوال پېر ناولونه په ساده تؤګه فلسفي نهیرونه او اندونه په پؤر نۀ اخلي، بلکې جوش پکښي پوکي او ژوند پکښي پينځوي. ځینه ستر ناولونه خو د دغه پېر د نامتوترینو فلفیانؤ لخوا ولیکل شول. په ۱۸ پېړۍ کښي ترټؤلؤ زیات چي کوم ناول وپلورل شؤ هغه د ژان ژاک روسو (۷۸ – ۱۷۱۲) ناول *La Nouvelle Heloise* ؤ. د مونتېسکؤ *Lettres Persanes*، د ولټایر *Candide* هم په درسته اوروپا کښي خورا ستره بریا په برخه شوه. دیدرؤ د شاهکار بیا *Jacques le Fatalist*e ؤ.

والټایر په خپل ناول **کاندید** یا **اسره ګر** (۱۷۵۹) کښي یوازي په اسرې (*optimism*) باندي هنک (طنز) نه دي کړي بلکي د لایبنیز په اروایني (*Metaphysics*)، او د نیواک (*colonialism*) او کلیسا په ګډون د هغۀ وخت د ټؤلنیزې اډانې په ټولؤ ډولونؤ پورې یې خندلي دي، ان د ورسي اډانه (*system of logic*) یې هم نۀ دي پرېښني. ناول په خپل اتل، **کاندید**، پسي روان دي؛ دي چي د هغه وخت په بلده او پېژندل شوې نړۍ کښي هرچرته ځي نؤ د دوترونؤ او دیوانونؤ په دستورونؤ او خویونؤ کښي چي کومه چالاکي، دروغ او لېونتؤب پروت دي بربنډوي یې. له کاندید سره چي څوک ملګري دي هغه ډاکټر پانګلؤس دي چي د لایبنیز د اډانې بې ورسې اوتې بوتې یې د تؤتي په څېر يادې کړې دي. هغه په درراسه (*logic*) باندي ښېخي ټینګه ګرؤهه لري. د ژوند په ټؤلؤ رېښتیاؤ باندي سترګې پټوي او وایي چي زمورِ له «شتون» سره چي کوم ربړونه او ګډوډي له لویه سره مله ده د هغې سپړنه او پېژندنه مورِ د اروایني (*metaphysics*) په زؤر ډېر په اسانۍ سره کولاي شو. ناول په دې موندنه پاي ته رسيږي کله چي وروسته کاندید پوه شي چي کار او زیار تر خوشو اټکلونؤ او اسره ډېر ګټور دي.

# ښاغلي برمانو (*Noble Savage*)

په ۱۸ پېړۍ کښي سیل، سمندري سوداګري، سپړنه او لټون خورا زیات شؤ. د دغؤ مزلونؤ او سیلونؤ له برکته د پؤهنې یوه ځانګړې څانګه راوزېږېدله. دغې څانګې ته «پرتلیزه اینسان پېژندنه » یا *comparative anthropology* وایي.

په کال ۱۷۶۷ کښي فرانسي څېړدونکي، لوي انتوني دي باوګاینویلي (۱۷۲۹ – ۱۸۱۱) د تاهیتي سیمي ته ورسېدلؤ. په ۱۷۶۹ کښي تورن کوک هم دغې سیمي ته ورغلؤ او پوره څلؤر میاشتي یې د وېنیس ستوري د لېږد لندراه وکوله. باوګاینویلي چي پخپله هم د روسؤ د لارې


(c) ketabton.com: The Digital Library

لاروي ؤ، په تاهيتي کښې يې د « ښاغلي برمانو » يا (noble savage) تؤلي ځانګړنې وموندلې.

د دوؤ تاهيتيانؤ نجونؤ انځور چې پال ګاګين په ۱۸۹۹ کښې جوړ کړ



source: www.metmuseum.org




source:www.janesoceania.com/tahiti_marquesas1/tahiti_couple.jpg

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي باوګاينويلي به ويل چي د تاهيتيانو د وَرلا (*sex*) خويونه ښخي جندون (*nature*) ته نيژدې دي. او زموږ د سؤچ ښخي اپوټه دوي خو تر موږ زيات ښارندوي (*civil*) دي. او ښاغلي کوک به بيا ويل، زه تاهيتي خوشال او ارام ژوند د اوروپا له چټل او ياغي ژوند سره ښخي نۀ شم پرتله کولاي.

ښاغلي ديدېرو بيا په خپلې ليکنې کښې د اوروپا دؤدونو او خويونو د ارزوني او غندني لپاره د تاهيتيانو « سپېڅلي لېمۀ » وکارول. هغه په خپلې ليکنې کښې زبات کړه چي د اوروپايانو لپاره چي کوم دؤدونه او خويونه ښخي سم او تؤلي او سور برابر دي هغه د سپېڅليؤ تاهيتيانو لپاره بيا ښخي بې سوره او ناپريت دي. له وروسته نؤ د پاريس او لندن د سيانۀ او هوښيارؤ ليکوالانؤ دې ګاي ته ورپام شؤ. هغوي به پوښتنه کوله او ويل به يې چي دا د « ښارنتؤب » يا (*civilization*) نوم خو له هغؤ سپېڅلو او پاکؤ وګړؤ سره ښه جوړېږي چي د جنوبي سمندر په ټاپوګانؤ کښې استؤګن دي نۀ د ۱۸ پېړۍ د اوروپا له ټؤلنې سره چي په ښخرته تؤګه چټله او ناپاکه شوې ده.
د ښاغلي برمانو يا په بله مانا (يو ساده اولس) نهير د ۱۸ پېړۍ په ادب کښې ريښه ونيوله. هر ليکوال به په خپلؤ ليکنؤ کښې لوستونکؤ ته يو ځانګړي (برمانو) ورپېژندلؤ. مونتېسکؤ په پارسي شهزاده باندي پيل وکولؤ؛ ولټاير کانديد د ټل لپاره ژوندي وساتلؤ؛ بوفؤن بيا د بيدار ادم په نامۀ لوستونکؤ ته وروپېژندلؤ؛ روسؤ بيا پخپل ځاي د برمانو ازمؤينه وکوله چي خپل پاته ژوند يې په يوازيتؤب کښې تېر کړؤ.

# پارسي ليکونه

مونتېسکؤ (۱۶۸۹ ـ ۱۷۵۵)، چي پوره نوم يې *Chalres-Louis de Secondat, Baron de le de Montesquieu* دي، د خانانؤ په کؤرنی کښې پيدا شوي ؤ او د بؤردؤ د سيمې د پارليمان په ميراس ورته پاته شوي ؤ. په ۱۷۲۱ کښې هغۀ په هالنډ کښې په ناڅرګند نامۀ يوه داسي ليکنه خپره کړه چي په ۱۸ پېړۍ کښې په اروپا کښې د واکمنانؤ په چپه له اغېزناکترينو ليکنؤ څخه يوه وه. د دې ليکنې نوم ؤ، **پارسي ليکونه** يا *Lettres Persanes*

**مونتېسکو**




*source: www.republikanisme.nl/montesquieu.jpg*

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې لوستني (کتاب) کښې د دوو پارسيانو، اوسبېک او ريکا د هغو ليکونو لړۍ ده چې هغوي د پاريس د استوګني او نورې اوروپا ته د مزلونو او سيلونو په مهال ليکلي دي او خپلو کورونو ته يې لېږل رالېږل شوي دي. دواړو پارسيانو د اوروپا د سيل او مزله کيسه په خپلو ټکيو او ډول وړاندي کړې ده.

په ۱۷۵۴ کښې مونتېسکو په پارسي ليکونو باندي څرګندوني وکولې. هغهٔ وويل چې په دوديزو ناولونو کښې ليکونکي يوازي هغه وخت له لارې څخه يوې يا بلې خوا ته د اوښتلو اجازه لري کله چې دغه اوښتل پخپله يوه نوې کيسه پېنځوي. مګر د « ليکونو» په ډول بڼه کښې ليکونکي د لوبغاړي او پېښې په هکله ډېر اړ نه دي بلکه کولاي شي چې خپل فلسفي، سياسي او چلندي اندونه او انګېرنې په اسانۍ سره پکښې ځاي کي او په يوهٔ ناليدلي ځنځير ټولې پېښې وبله وپېيي.


source: i.telegraph.co.uk

پارسي ليکونه د لوستوکو لپاره هسي ليکونه نه ول بلکې يو ستر ناول ؤ.

په ډېري ليکونو کښې د فرانس د پرګنو او ديوانونو په هکله څرګندوني شوې دي. د پارسي سيلانيانو په سترګو ځينه ښخي منل شوي دودونه ډېر ناپېريت لګيږي. که څه هم دوي ناولده دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر د ازاد چورت خاوندان دي. دوي تل هڅه کوي چي ځايي او سيمه ايز دوُدونه له جهاني او جندوني (*natural*) هغوُ څخه ښېل کي او تر منځ يې توپير وکوي.

د ښېلګي په توګه ، په ليک ۳۰ کښې، ريکا خپل ملګري ايبين ته د پاريس د خلکو د هغه غبرګون په هکله ليکي چي هغوي يې د کاليو او دوُديزو ختوُ (جاموُ) په باره کښې ښکاره کوي. هغه ليکي، « کله چي زه دلته راورسېدلم نوُ دوي ما ته داسي کتل ته به وايې لکه زه چي له اسمانه راکوز شوي يم؛ لويانوُ او ځوانانوُ، ښځوُ او کمکيانوُ ټولوُ لېواله ول چي ما ته وګوري. څه به دي سر خوږوم لنډه دا چي بل به هيڅا ته دومره نهٔ وي کتل شوي لکه ما ته چي وکتل شول.»

نوُ ځکه خو ما پرېکړه وکوله چي پارسي کالي ښخي پرېږدم او پر ځاي يې اوروپايي کالي اغوستل پيل کم. له دې ازموينې وروسته ما ته خپل ريښتوني ارښت ښکاره شي چي زه څومره ارزم. چي ګرد بهرني سينګارونه او ډولونه مي ايسته واچول نوُ هله په دې وتوانېدلم چي د خپل ځان کره ارزونه وکوم. له هغهٔ ګنډونکي څخه زما ګيله ښخي پرځاي ده چي زه يې د سترګوُ په رپ کښې د اولس له پامه، درناوي او تلوسي څخه ښبېرخي کړم؛ ځکه چي په يوه شېبه کښې يې زه په يوهٔ داسي تشي کښې واچولم لکه زه چي ښخي هيڅ شتون نهٔ لرم.

مونتېسکوُ د واکمنۍ په ستوُ او تمبوُ باندي په اغېزناکه توګه هنکونه او ټوکي کولې. يوه هم په هغوُ کښې کليسا وه.د ښېلګي په توګه ريکا په خپل ۲۹ ليک کښې ايبين ته داسي ليکل کوي:

> *ښبې چارې،*
>
> *پوُپ د ميسهانوُ مشر دی؛ هغهٔ يو ډېر لرغونی بوت دی چي اوس يې هسې تش د خوی له مخې بندګي کيږي. يو وخت خو هغهٔ خورا ځواکمن ؤ، ان چي باچهانو ورڅخه ترهه کوله، خکه چي به دوی دومره په اسانۍ سره تختنه کوزولای شول لکه په څومره اسانۍ چي اوس زموږ پرتمۍن او له برمه ډک سولتانان چي د ارمينيا او جورجيا واکمنان له تختنه کوزولای شي. مګر اوس له هغه څخه د هيچا وېره نهٔ کيږي.... نوُر شيخان چي کله کله سره يو ځای راټوُل وي نوُ د ګروُهې (عقيده) چارې ترسره کوي. مګر کله چي يې هر يوازي يوازي وي نوُ د دوی تر ټوُلوُ لوُی کار دغه دی چي وګري له مسبهي ګروُهې څخه بېزاره او بېلا رې کي.*
>
> *ما اورېدلي دي چي په سپېن او پورتګال کښې ځينه داسي دروېشان او ملنګان هم شته چي ښبخي ټوکې او خوشالي نه کتلای شي او يې زغملای شي. هغوی خلکو سختې سختې سزاګانې ورکوي او په اوُر يې داسي سوزوي ته به وايې چي سرې نهٔ ؤ بس ګينګړ خل ؤ.*

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي د کليسا چارواکي په دغسي ليکنۆ وبوږنېدل او وَ به خشمېدل، نۆ مونټېسکۆ به ورته وويل چي پارسيان خوران خو نابلده دي ببخي زموږ په دۆد او دستور نۀ پوهيږي.

په ليک ۲۴ کښې بيا د فرانس د باچا په هکله ليکي:

*ښې چارې،*

*په نۆرۆ ګايونۆ سبېره، دغه باچا يو لوی جادوګر هم دی. دۀ د وګړيۆ سۆچ هم په خپل ګورت کښې نيولی دی؛ چي څه ډول دی غواړي د دوی سۆچ په هغې خوا اړولای شي. د ببلګې په تۆګه که چيري په خزانې کښې يوازي يو ميليون روپۍ وي ، او دی دوۆ ميليونۆ ته اړتيا ولري ، دی بل څه نۀ کوي بس دومره هغوی ته وايي چي يوه روپۍ د دوۆ روپيۆ برابره ده، او بس دوی هرومرو پرې باور کوي.*

*او که چيري دی په يوۀ ګران او سخت جنګ اخته وي او روپۍ هم ورسره نۀ وي ، دی بس يو کاغذ دوی ته په لاسونۆ کښې ورکوي او ورته وايي چي دا به د روپيۆ کار ورله وکوي، دوی يې هم بې له درنګه او بې پوښتنې مني.*

*په درناوي*
*ريکا*

(c) ketabton.com: The Digital Library

38
Carle Vanloo
*A Sultana at her Tapestry Frame with a Companion*, about [illegible]
Oil on canvas, [illegible] cm
The State Hermitage Museum, Saint Petersburg



*source: www.jimandellen.org*

لوستونکؤ ته چي کوم ځيز زيات خوند ورکړي ؤ هغه د د هغه هرم يا سراي د ورلا او اوپرَوالي (erotic and exotic) ګډه کيسه وه چي پارسي سيلانيانؤ تر شا پرېښودي ؤ. د پيل په يوهٔ ليک کښي د اوسبېک مشر خواجه سراي په خپل تؤر بخت مانېجن دي او د دهٔ يوه مېرمن بيا ځکه ګيله منه ده چي مېړه يې په کؤر کښې نشته او دا يې د وَرلا له تپاکه کړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې به خپل مېړه ته ليکل:

*زما هاغه له خونبې ډکې شپې سختې يادې دي چې ته به زما غېږې ته راتلې...*
*ځومره بدبخته وي هغه ښځه چې په بدن کښې يې باړ او تپاک په غوځنګونو وي*
*مګر دَ دې يکيوازي مېړه، هغه څؤک چې د دې باړ ورماتولای شي، هم په دغه*
*وخت کښې هلته نۀ وي؛ دا چې يوازې ځان له پاته وي نو خود به د نيمګړېؤ ارمانو*
*په تؤپان کې کړيږي او وخت به همداسې ابته ورباندې تېرېږي.*

**پارسي ليکونه**، له توښه او غباره ډک ناول دي؛ يو داسې ناول چې د وَرَلا (*sex*) کړاو او ناارامي له ورايه پکښې برېښي. پارسيا «فلسفيان» په اوروپا کښې په خپل يانۀ او مزلۀ کښې د **لوېديځ** د وَرَلا بنديزونه (*sexual taboos*) له خپلؤ هغؤ سره پرتله کوي. مګر له بده مرغۀ ځومره زيات چې پارسيان پؤرېژني (مسافر) له کؤره ليرې پاته کيږي هغومره په ختيځ هرم *(Seraglio)* کښې ګډوډي زياتيږي.

مؤنټېسکؤ ته **هرم** د زؤرواکۍ يوه نخښه برېښي، يوه داسې چاره چې بېخي ناجندونه (*unnatural*) ده. په دې کښې هر کس په چټلۍ او درغلۍ اخته وي. خواجه سرايان (نرښځيان) چې له وَرَلا څخه بې برخې کړشوي وي هڅه کوي چې د دغه تاوان پؤر د واک ډېرولؤ په بڼه واخلي. په اوسبېک باندې په ټؤلؤ مېرمنؤ کښې روخسانه ګرانه وه. مګر هغې په خپل وروستني ليک کښې هغه ته وليکل،« *ما له خپل زؤرواک م□□ه سره جپا وکوله* ». وروسته هغې خپل ځان په زهرؤ باندې ووژلؤ.

د مؤنټېسکؤ ناول په بازار کښې داسې پلورل کېدلؤ تا به ويل چې خوږه او سوچه ګوړه ده. په يوۀ کال کښې لس ځله خپؤر شؤ. مؤنټېسکؤ په ۱۷۱۷ کښې وادۀ وکولؤ. د **هغۀ** ټولنيز او کورني ژوند خورا بريالي ؤ.

هغۀ به ويل، زه د اوسبېک او ريکا په لاره روان شوم او د اينګلستان په ګډون مې ټؤله اوروپا وکتله. په ۱۷۲۶ کښې هغۀ په پارليمان کښې خپله چوکۍ وپلؤرله او خپل ځان او وخت يې کاري ليکنؤ ته يوې خوا ته کړؤ. په ۱۷۴۸ کښې کله چې هغۀ د ړندېدلؤ او پيسؤ له ستونزو سره لاس او ګرېوان، نؤ يو داسې لوستني (کتاب)، **د کانون اروا** يا (*The Spirit of Law*) يې خپؤر کړؤ چې د ۱۸ پېړۍ له اغېزناکترينؤ سياسي لوستيؤ څخه يو ؤ.

## ولټاير اينګلستان ته تېښته کوي

فرانکو ماري ارؤ (۱۶۹۴ – ۱۷۷۸) چې وروسته يې د **ولټاير** نوم غوره کړؤ په پاريس کښې زؤکړې ؤ او د جسؤيټانؤ لخوا يې رؤزنه شوې وه. هغه لومړنۍ ادبي برياوې هغه مهال وګټلې کله چې يې اوېډيپس وېرنه *(The Oedipus tragedy)* په نوي ډول وليکله. ورپسې يې د باتورۍ داستان *La Henriade* وليکلؤ چې پکښې يې د فرانسې د زغم لرونکي باچا، اوم هينري، نکلونه او داستانونه بيا له نوي سره وليکل. په دغه کار ولټاير له لوي پېنځلم، له رانۍ، او د اورلين له ډېوک څخه نغدې پېرزؤينې وګټلې. مګر ولټاير په هنکې شايرۍ او ټؤکؤ ډکو نزمونؤ کښې هم خورا بدنامه ؤ. په ۱۷۱۷ کښې هغۀ يو کال په باستيل کښې پاته شؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ورځ يې له يوه سردار، شاويلاير دي روهان،  سره خرې کښېښودلې او ورته ويې ويل چې هديرې دي ورسره ووځي.

همدا سوب ؤ چې هغه د هيواد پرېښوډلو پرېکړه وکوله. په مې ۱۷۲۶ کښې هغهٔ اينګلستان ته ورسېدلؤ چېرته چې هغهٔ پخپله ځان دوه کاله پوريژني(*exiled*)  کړؤ.

**ولټاير**




*source:www.ymca-coll.edu*

# له اينګلستان څخه ليکونه

د مؤنتېسکؤ ليکونؤ خو د فرانسي ټؤلني په دؤدونؤ او ديوانونؤ باندي سپک او نانبغ ګوزاونه کړي ول. د دغه ځاي سردارانؤ چې به کله هغه لوستل نؤ يو ډول ټؤکي به يې ګڼلي چې يوازي دوي ورباندي پوهيږي؛ ځکه مؤنتېسکؤ خو پخپله هم له دوي څخه ؤ. ولټاير بيا يو ارجل وګړي ؤ او د يوهٔ يونګر او مزلي په ټؤګه چې يې څه هم په پؤرژنی کښې ليدلي او کتلي ول هغهٔ يو وليکل. د هغهٔ **د انګريز ميلت په هکله ليکونه** يا  *Letters concerning the English*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*Nation* ، لومړي په کال ۱۷۳۳ کښې په اینګلستان کښې خپارهٔ شول او په ورپسې کال کښې د فرانس کښې د فلسفي لیکونه یا *Letters Philosophiques* په نامهٔ خپاره شول.




*source:www.epubbooks.com*

***هغهٔ به ویل، ما انګرېزي سانچه د فرانس پر ناکامیو او تېرېؤ باندي د برید کولؤ لپاره وکاروله. زه ځانګړې تؤګه په اینګلستان کښې د ګرؤهې زغم او سهنې، ازاد سیاست او سوداګرۍ او د پؤهنې ځواک او سبک په ما باندي نابېره اغېزې وکولې.***

د ولټایر **لیکونه** « د زړې واکمنۍ په چپه » غورزول شوي لومړني بم ګڼل کېږي. په فرانس کښې بیا بیا په غلا چاپ شول. د ولټایر د نیولؤ وایه (*order*) راغله. سرکار یې ټولې چاپ شوې شمارې وسوزولې او په بیا خپرولؤ، چاپولؤ او پلؤرلؤ یې چورلټ بندیز ولګولؤ.

# ولټایر د اینګلستان د دین په هلکه

د اینګلستان په هلکه د خپل لوستني (کتاب) په پیل کښې هغهٔ څلؤر لیکونه د **کوېکرانؤ** د ګرؤهې په باره کښې لیکلي دي. د هغوي ساده او له زغمه ډک خویونه، او د د هغوي لخوا په رېښتونې تؤګه د اروا او کاري ارزښتونؤ یوځاي کول د ولټایر لپاره خورا په زړهٔ پوري ول. که څه هم دهٔ به په هغوي پوري هم کله کله نرۍ نرۍ ټوکې کولې، مګر په دهٔ باندي دغه ګاي ډېره ژوره اغېزه کړې وه چي د **کوېکرانؤ** په ګرؤهه کښې پادري هیڅ برلاسي نهٔ لري؟

دهٔ له **کوېکرانؤ** څخه وپوښتل، تاسي د لمانځه لپاره ملا نهٔ لرئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوۍ يي پوښتنه داسي ورغبرګه کړه:

*نۀ، زموږ ګرانه دوسته، موږ ټول پخپله دا کار ډېر په ښه توګه کولای شو. خدای دي نۀ کوي چي موږ به دومره زړۀ ورکيږو چي بس يوازي يوۀ ځانګړي کس ته ووايو چي په دودينې (يکشنبې) د سپېڅلې اروا هرکلی وکوي او نور ټول ګروهندوی (Faithful) له دغۀ برکته بې برخې کو.*

# Quaker

Pronunciation: 'kwĀ́-ker

Function: noun

1. one who quakes
2. also known as: Friend.

Member, by birth and/or convincement, of the Religious Society of the Friends of Truth, a Christian sect founded in England by George Fox, circa 1652

Originally "quaker" was a derogatory term referring to a physical shaking which often occurred when Friends were moved to speak from the Holy Spirit.

Quakers are not necessarily connected to birds, oil or oatmeal.

definition provided by QuakerShop.com

ولټاير انګليکن، پريسبايټېرين او نورۀ ټولۀ ديني ډلۀ او ټپلۀ په باره کښي يو يو ليک وليکلۀ. ولټاير ټول ژوند د کاتولیکي کليسا د نَزغم او نَسهني له تګلارې سره سخت چپ ۀ. مګر د دې مانا دا نۀ وه چي هغۀ له دينه بېخي بې پروا ۀ. بلکې اپوته ټول ژوند هغۀ مخکې ۀ او د دين سوړي ورپسې روان ۀ.

يو ځاي خو يي لا دا هم ليکلي دي: *«که چيري خدای شته هم نۀ وای، هغۀ پېنځول شوی ۀ.»*

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خپلواک سوچ او سوداګري

ولټاير چي کله په اینګلستان کښې استوګن ؤ بیا به هم کله کله د خپلې سوداګرۍ د خسمانې لپاره فرانس ته په زغرده وربښکاره شو. ولټاير يو چالاک سوداګر ؤ او په اټکل کولو کښې هم خورا تکړه ؤ. هغهٔ په سوداګري کښې ښې پیسې ګټلې. د دغې ګټې په مټ خو هغهٔ د ازاد اند او چورت ساتلو جوګه ؤ او هم یې ژوند له خوښیو او ښادیو ډک ؤ. هغهٔ به ویل:

*« همدې سوداګرۍ خو انګرېز ښارندویان Citizens ودان کړي دي او هم یې له هغوی سره مرسته کړې ده چي خپل ځانونه خپلواک وساتي، او همدغې خپلواکۍ بیا په خپل وار سوداګرۍ ته وده ورکړې ده،او په دې توګه د دغه کام سترواکي جوړه شوې دی. »*

*تاسي ورشئ د لندن د وتې بازار London Stock Exchange وګورئ، چي تر ډېرو درباروئو یې هم برم او پرتم زیات دی، هلته به تاسي د ډېرو میلتونو استازي ووینئ چي د اینسانانو د ښېګړې لپاره به وبله راټول شوي وي؛ هلته یو یهودي، محمدي او مسیحي داسي راکړه ورکړه وبله کوي لکه ټولو دین چي یو وي؛ دوی یوازې هغو کسانو ته بېګروهې کاپران وایي څوک چي دیوالیان شي...*

## د پارلیمان په باره کښې

ولټاير وليکل: *« د مځکې پر مخ انګرېز یوازینی میلت دی چي له خپل باچا سره یې ډغره وهله او په دې کښې بریالی شو چي د هغهٔ واکونه او ځواکونه راکم کي. له ډېرو هڅو او کړاوونو هغوی د سرکار او واکمنۍ یوه داسي ښه او کارنده اډانه ورغوله چي واکمن یې د ښو کړنو د ترسره کولو لپاره خو هر ډول واکونه لري مګر د بدو لپاره یې بیا لاس او پښې ټینګې ورتړلې دي. په دغې اډانې کښې ټول سرداران ډېر درانه او د برم او پرتم خاوندان دي مګر نه خو بېځایه غټېږي او لویي کولای شي او نه مینځې او مریبان لري. او اولس او پرګنې بیا بې له کومې پرېشانۍ د سرکار او واکمنۍ په چارو کښې پوره پوره برخه اخلي.»*

(c) ketabton.com: The Digital Library



AN EARLY ENGLISH PARLIAMENT

*source: www.heritage-history.com*

که څه هم ولټاير کله کله د اينګلستان د پارليمان په اولسي جرګې کښې د سياستوالو په کړو وړو پوري نرۍ نرۍ ټوکې هم کوي په تېره هغۀ مهال کله دوي له يوۀ بله سره په مرنۍ او شخړو سر شي. مګر ولټاير چي کوم څيز تر به هر يوۀ زيات ستايي هغه د اينګلستان سياسي اډانه ده چي کمې دستوري باچهۍ *(Limited constitutional monarchy)* باندي ولاړه ده.


ولټاير به ويل: له **ستر لاسونده** *(Magna Carta)* راهيسې اينګلستان په پرلپسې توګه د باچا او کليسا له زورواکۍ څخه په خپلواکي ګټلو کښې بريالي شوي دي.

اينګلستان ورو ورو د کانون له برابرۍ اود ټيکس يوې داسي اډانې سره روږدي شو چي هيڅوک ترې ازاد نۀ و بلکې پر هرچا باندي يوشان لګېدلو. ( په فرانس کښې څو لسيزې وروسته هم پر سردارانو او ملايانو باندي د ټېکس لګونه يوه غټه مرنه وه. همدغې مرنې هغه بڅري تازه کړل چي غرغنډې يې نرۍ د فرانس د اوښتنې *(Revolution)* په بڼه کښې وليدلې.


(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیتوالي سرخېلان

د لیتوالان سرخېلان درې انګریزي مړونه ول: بېکن، لاک او نیوټن. ولټایر خپله تر ټولو ستره لیکنه «لیکونه»، او الېمبرټ او دېدېرؤ خپل «پؤهنتؤل» (*Encyclopedie*) هم وَ دغؤ درېیو ښاغلیؤ ته ډالۍ کړې وه.



**جان لاک**





**ایساک نیوټن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرانسیس بېکن**

*په کال ۱۷۸۹ کښې تامس جیفرسن (۱۷۴۳ - ۱۸۲۶) د خپل لوستون (لایبرېرۍ) لپاره د دغؤ درېیو انګرېزي نباغلیو یو ګډ انځور راوغوښتلؤ. هغۀ به د دوي په باره کښې ویل: دوي د جنديي او خوېیي پوهنؤ (physical and moral sciences) بنستهونه اچولي دي ... دوي درېواړه سترترین اینسانان ول چې تر اؤسه یې ساري نۀ دي پیدا شوي.*



**تامس جفرسن**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښاغلي فرېډريک میلښوير فؤن ګريم به ويل، مؤنټیسکؤ او ولټاير خو دواړه دغؤ سترؤ انګرېزي فلسفیانؤ شاګردان ول او د هغؤي په پلۀ يي پلونه کښېښودل. که دغه انګرېزان نۀ واي نو په فرانس کښې به فلسفه او ريښتينی (*Reason*) لا اوس هم بېخي کچه وه.



**فرېډريک میلښوير فؤن ګريم**

# د تجربوي فلسفې پلار

تر لاک پخوا فرانسيس بېکن (۱۵۶۱ – ۱۶۲۶) په تجربوي ډګر کښې خورا زيات کړي ۇ. ټول هغۀ د «د تجربوي فلسفې د پلار » په نامۀ پېژني.

هغه به ويل:

*«زه په پؤهنې کښې د يوې سترې سموني لؤري کوم. زه د واکمنؤ لخوا راکړ شوي پټې او رنډې ګرؤهې په کلکه ردوم او په ځاي يې يوه داسې نرۍ خپلوم چې په هؤش او تجربې ولاړه ده»*

بېکن به ويل چې پؤهنه د ونې د څانګؤ غوندي وبله وېشلې ده. د دغې «پؤهونې» غټې غټې څانګې د دماغ له دغؤ درېو ځواکونؤ راټوکيږي: **يادښې، انځؤرنه** او **ريښتيې**.

| | |
|---|---|
| يادښې: | د پخوانۍ پؤهې سرچينه |
| انځؤرنه: | د بدلې (*poetry*) سرچينه |
| ريښتينی: | د فلسفې سرچينه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوهنونه**

# جان لاک او سیاست

د لاک اغېزې يوازې تر فلسفې پورې لنډې نهٔ وې. د هغهٔ سياسي ليکنو هم په ديدېرؤ، جفرسن او د ليتوالي نوُرو سمونوالان باندې اغېزه کړې وه. لاک په هالنډ کښې پوربېژني (*exiled*) ؤ. دې له هغهٔ ځايه له خپلو دوو ليکنو« د واک ترونونه » او د «اينساني پوهې په باره کښې يوه ليکنه» سره يو ځاي اينګلستان ته راستون شو. دغه دواړه ليکنې يې په ۱۹۶۰ کښې خپرې کړې.

په دغو ليکنو کښې هغه په دې يوهٔ ګاي باندې ډېر زيات زوُر اچولو او ويل به يې، *« د اولس خوښې د سرکار د واکمنۍ يوازينې بنسټ دي.»* **په بله وينا هغه د** پښتو متل، چې په زوُر کلي نهٔ کيږي.

د سرکار د کارونو په باره کښې به يې ويل، *«**سرکار بله هيڅ دنده نهٔ لري پرته له هغو درېيو لومړنيو دندو څخه د کومو د پوره کولو لپاره چې سرکار رغول شوي دي. او هغه درې دندې دي: د ځان، خپلواکۍ او مال ساتنه.**»*

لاک اولس ته وروښودله چې که چېرې يو باچا يا واکمن د اولس له خوښې پرته يوه خپلسرې واکمني کوي «نو بيا اولس هم ازاد دي چې د ځان غم پخپله وخوري» د يوهٔ زوُرواک له زوُراکۍ سره ډغره وهلو لپاره ياغيتوب ببخې روا دې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایساک نیوټن

د سر ایساک نیوټن (۱۶۴۲ – ۱۷۲۷) ساینسي برياوي ډېرې ستري وې. نیوټن له ګاټفريډ ویلهېلم (۱۶۴۶ – ۱۷۱۶) سره په ګډه په **ګڼترۍ** *(Maths)*کښې د **شمېرَندې** یا (*Calculus*) په نامه يوه نوې مګر ډېره ګټوره لاره ورغوله . د نیوټن شاهکار لوَستني، چې ( **د جندوني فلسفې شمېرندویه ستې)** يې نوم ؤ، د خوزښتپوْهنې په نوې توْګه شننه او پېژندنه ترسره کړه. نیوټن په دغه لوستني کښې د مځکوْ او نوْروْ سپوږميو د خوزښتونوْ او چورلېدلوْ په باره کښې د کېپلر او ګالیلیوْ کارونه خورا په ښه توْګه وَبله يو ځاي او جوْړ راجوْړ کړل.

نیوټن به ويل: ما د جهان د اوْډون او د سپوږميو د خوزښت په باره کښې يوه داسي ستره شننه او څرګندونه د نړۍ مخې ته کښېښوْدله چې په ګڼترۍ باندي ولاړه ده. ما د راکښنې *(Gravitation)* په باره کښې د يوه جهاني کانون وړانديز کړي دي چې دا مي هم ويلي دي چې د هسک تشيال ناپايه (*infinite*) دي.

په کال ۱۷۰۴ کښې نیوټن په خپل دوْيم لوستَني (**لېمهٔ**) يا (*Optics*) کښې د رڼا د جندون او څرنګروالي په باره کښې خپلې پرېکړې ډاګيزې کړې. د دغه لوستني په پاي کښې هغه يو څوْ اټکلونه او ورسره يو څوْ داسي پوښتني هم وليکلې چې بيا په درسته ۱۸ پېړۍ کښې د ساينسپوهانوْ لخوا پرې لټون او ګروېږنه روانه وه.

کله چې نیوټن خپلې لېکنې خپرې کړې نوْ د ډېروْ ناساينسي ليکوالانوْ لپاره ښخي په زړه پوْرې وې. په هغوْ کښې يو پخپله ولټاير هم ؤ. دغوْ ليکوالانوْ به نوْ اوس داسي انګېرله چې دا جهان ښخي مېخانيکي دي ان چې پخپله نیوټن هم دومره چورت نهٔ ؤ وهلي. دوي به ويل چې د نیوټن د وينا له مخې دغه جهان يوه داسي اډانه لري چې پخپله ځان اوْډي هم او سموي او برابروي يې هم.

د نیوټن د ګټترۍ د فارمولوْ، د خوزښت کانون او نوْروْ څرګندونوْ ښکلا دغه وه چې جهان يې په دومره ساده او اسانه توْګه موږ ته راوپېژندلوْ چې پخپله نیوټن به دا چورت نهٔ ؤ وهلي.

ريښتيا خو دا ده چې پخپله **راکښنه** يو له رازه ډک ځواک ؤ.

# نیوټن، که د پوْهنې يوه سامچه (*Model*)

نیوټن چې په جندپوهنې (*physics*) کومې برياوې تراوْسه موندلې وې ليکوالانوْ غوښتل چې بېلګې يې د پوْهنې نوْروْ څانګوْ ته هم پراخې کې. مانا دا چې نیوټن د ريښتوني ساينس لپاره د يوې سامچې، نخچې يا بېلګې په توْګه غوره کړل شوْ. د بېلګې په توْګه ولټاير هيله څرګنده کړه چې يوه ورځ به راشي چې د جندپوْهنې لارې او توْګې به په تاريخ پېژندنه او ليکنه کښې هم وکارول شي. موږ غواړو چې اينسان په پوره او بشپړه توْګه وپېژنو، کټمټ په هغه ډول کوم چې په جندونپوْهنې کښې ترسره کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فلسفیان

مؤنتېسکؤ، ولټاير، ديدېرؤ، روسؤ، بوفؤن، کانديلاک، تورګؤت، کؤنډؤرسېټ، مؤرلېټ، دي هؤلباخ، هېلوېټيس، ګريم او راينال.



مؤنتېسکؤ او ولټاير چې کومه لاره پرانيستله نؤر ټؤل ليکوالان او رؤښندويان په هغې روان شول او په په ځانونؤ کښې يې يو داسې نوي ډاډ او باور وموندلؤ چې په پای کښې جګړه ترې وزېږېدله. د پاريس په سماورونؤ، دېرؤ، هوجرؤ او هټيؤ کښې يو نوي کول را په ټوکېدلؤ ؤ. دغه کول ته يې ويل: فلسفيان.


دوي په د اند او چورت فلسفيان روښندويان او ليکوالان خو ول، مګرفلسفه يې پېشه او دنده نهٔ وه، او نهٔ هم دوي د پؤهنتونونؤ سترستر ليکوالان ول. بس دا د هغهٔ مهال د پاريس انځورنؤ، مرنؤ کشالؤ، ريښتينيؤ او ورسؤ چاپېرچل ؤ چې د ليتوالې دا سرخېلان يې وزېږول. په دغؤ ځايونؤ کښې به د ليتوالې د جنګره ځانګؤ غړي وَبله راغونډېدل. هغوي به دلته اندونه څرګندول او چورتونه به يې وهل، ليکنې به يې کولې او هم به يې په خپل منځ مرنې او کشالې وَبله کولې او هم به يې له نړۍ سره ريښتينی او ورسې کولې.

فلسفيانو د نوي جوش، ريښتينی، زغم او پرمختګ ملايان، سرتېري او خورونکي ول. ولټاير به هغوي ته په چيغؤ چيغؤ ويل چې وَبله يو شئ او يوه د ريښتينی ګوند جوړ کئ.

مګر د دغه غورځنګ په اؤډلؤ کښې لوي لاس د دېنيس دېدېرؤ (۱۷۱۳ – ۸۴) ؤ چې ګڼ شمېر جؤشنده (*Radical*) انديالان يې وَبله يو کړل او د هغهٔ وخت د ليتوالی تر ټؤلؤ ستر کار د پؤهنګرده (*Encyclopedie*) په ليکلؤ کښې يې بوخت وساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library




ENCYCLOPÉDIE,
OU
DICTIONNAIRE RAISONNÉ
DES SCIENCES,
DES ARTS ET DES MÉTIERS,
PAR UNE SOCIÉTÉ DE GENS DE LETTRES.
TOME PREMIER.
A PARIS,
M. DCC. LI.

**دېنس دیدېرو**

د فلسفیانو دوښمنان خورا خواشیني او خشمېدلي ول. هغوي به لومړي پوښتني کولې چي دا فلسفه یې بیا څه بلا ده؟ او بیا به یې په ځواب کښې ویل: دا په ټولني کښې یوه داسي بلا راپېژرته شوې ده چي نهٔ کوم دؤد مني او نهٔ دستور، نهٔ د ټولني سیاست ته غاړه ږدي او نهٔ یې دین ته. دا د داسي کسانو یوه ډله ده چي هر ډول ناپېریتي ته یې زړه وشي نو سرپه پرې نهٔ کوي.

مګر پخپله پوهنګرده بیا د یوهٔ فلسفي پېژندنه په دې ډول کوله:

***فلسفي خو هغه کس دي چي کرکه، دؤد، سرکوزي، َبرم، یا په بله وینا هر هغه څه چي د ډېرو ماغزه یې غلامان کړي دي، تر پښو لاندي کوي. هغهٔ لومړي په ډاګه د خپل ځان په باره کښې چورت وهي، بیا ورځي د سپینو او سیده لارو لټون کوي، او پرته له خپلي تجربې او رېښتینې هیڅ هم په پټو سترګو نهٔ مني.***

# د لیتوال غورځنګ مېرمني

فلسفیان یوه ورؤرولي جوړه کړې وه. هغوي بېل بېل کسان ول مګر په یوه ګېډۍ کښې وبله یوځاي شوي ول. په برتانیې کښې مېرمني له سماوارونو او ډېرو ښځه څه نا څه لري ساتل شوې وې. ( که څه هم کنجرۍ به کله هم دومره ډېري لرې هم نهٔ وې) په فرانس کښې بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلسفیانو لویې لویې ناستې او غونډې به په سالونونو کښې ترسره کېدلې. په دغو سالونونو کښې به د دواړو جنسونو ترمنځ په ازاده توګه د اندیالی او پوهنې اترې او ورسې کېدلې. زیاتره به د ناستې مشري هم یوې مخَورې مېرمنې کوله.

که څه هم په فرانس کښې اندیالي یوازې او یوازې د نارینو کار نهٔ وُ مګر بیا هم د نجونو په پرتله زیاتره به هلکانو دې ډګر ته رادانګل. پخپله دایدېرو د ښځمنو خورا درناوي کولو او ویل به یې چې هغوي ښې اورېدونکې دي ځکه چې ډېر ښه غوږ ږدي. هغه به ویل، د ښځمنو د ګډون له کبله ډېرې وچ او ځېره ګایونه هم خورا نرم او خوندور شي. موږ وروَ وروَ له هغوي څخه د ورسې او اترو چل او ډول زده کوو. پسته بیا دغه کړهٔ وړهٔ زموږ په لیک کښې هم راڅرګند شي او وځلیږي.



**د مادام جیوفرین سالون**

سالونونه به د **بارون دي هولباخ** او **هېلویتیس** غوندي فلسفیانو په کورونو کښې هم لګېدل. نوُرتېوُل سالونونه د مېرمنو ول. په دوي کښې میمه دو دیفاند، میمه جیوفین، مېله دي لا ایسپیاس او میمه نېکر ډېرې نامتو وې. یو سالون چلول خورا هوښیاري او چل غوښتلو چې اندیالان او لیکوالان پکښې خوښ او ماندوره واي او هم یې پوره پوره درناوي شوي واي. د پوهنګرده یا *Encyclopedie* د لیکوالانو ټوُلي به هم په لومړي سر کښې په همدغو سالونونو کښې پله راغونډېدلو او په همدغو ځایونو کښې یې په کار یې پیل وکولو.

د دغو مېرمنو کار یوازي سالونونه چلول نهٔ وُ. بلکې په هغوي کښې ځینه ځینه ډېرې تکړه اندیالانې او لیکوالانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میمه دي ایپیني (۱۷۲۶ – ۸۳) یوه تېتکۍ، کمزورې مېرمنه وه مګر سترګو به یې هر وخت ځل وهلو. هغې تر ډېرو کلونو ولټایر او دیدېرو په خپلې مینې کښې وساتل. بیا هغه په فرېډریک مېلکویر فون ګریم (۱۷۲۳ – ۱۸۰۷) باندي مینه شوه. هغې ته روسو هم ډېر خوند ورکولو که څه هم د هغهٔ د ژر خشمېدلو د خوي هم ښه ورته پته وه.

میمې دي ایپیني به د ګریم د په مهالنۍ **د لیکوالۍ تپال** یا (*Correspondence Litteraire*) په کار کښې ښه غوښنه ونډه اخیستله؛ لیکنې به یې ورته کولې، په تیاتر او لوستنیو، به یې بیاکتنې کولې، او هم به یې په چوچ *(Economy)*، سیاست او فلسفې په هکله کښل او ورسره ورسره به یې کله کله سندرې او بدلې هم لیکلې. کله چې به ګریم کومې خوا ته په یانه او مزله ولاړو نو د مهالنۍ چارې به هغې او دیدېرو ترسره کولې.

مارکوسې ابمیله دو چاتېله (۱۷۰۶ – ۴۹) تر ډېرو کلونو د ولټایر اندیواله او اینجل وه. دوي په کال ۱۷۳۳ کښې وَبله ملګرتیا شوه کله چې ولټایر ۳۹ کلن و او هغه ۲۷ کلنه وه. دا تر اتو کالو واده شوې مېرمنه وه او درې کمکیان یې لرل. پسته له هغې څخه یوه داسې پوهیالۍ ښځه جوړه شوه چې په هرڅه پوره وه. هغې الجبر ولوستلو. هغې نه یوازې نیوټن فرانسوي ته وژباړلو او له ولټایر سره یې کار کولو، بلکې ځان له یې د ساینس په هکله ډېرې په زړه پورې لیکنې هم وکولې.

په ۴۳ کلنۍ کښې هغې نوي مین، ۲۷ کلن مارکوس دي ساینټ لامبرټ وموندلو او ورڅخه بلاربه هم شوه. که څه هم ولټایر د هغې خورا ډېره وزله کوله مګر له زېږون وروسته ډېره ژر هغه مړه شوه. ولټایر د هغې په مړینې ډېر غمجن و. هغه به ویل « ما د ۲۵ کالو ملګرې وبایلله. هغه یوه تکړه سړې و مګر یو خلېت یې لرلو چې هغه ښځه وه .»

# لوستونکي او بندیزونه

فلسفیانو به لیکل د چا لپاره کول؟ په لومړي ګام کښې هغوي د خپلو ملګرو فلسفیانو لپاره لیکل چې په یوه جهاني جال کښې وَبله پېیلي او تړلي ول. مګر له دې سره سره په اولس کښې هم د هغوي لوستونکي په چټکۍ زیاتېدل. که څه هم په اینګلستان او هالنډ کښې بندیزونه نه ول مګر په نوره اوروپا کښې هغه د یوې وېرونکي درستې په توګه د اندیالانو په چپه کارول کېدل. هرې چاپونې او خپرونې به د سرکار لخوا اجازې ته اړتیا لرله. په فرانس کښې کوتوالان ډېر ژر په دې پوه شول چې د لوستنیو (کتابونو) سوزول ګټه نهٔ کوي بلکې لا یې نامتو کې او بیا یې په پلوَر کښې هم زیاتوالي راشي. نو د سوزولو پرځاي به ښه دا وي چې پلورونکي او چاپوونکي بندیان شي او لوستني یې ولکه شي. په دې توګه به د هرچا خولې بندې شي.

# ساینس او رغا

په رغا *(Industry)* او تیخنیکپوهنه کښې نوي کارونه د سکاټلنډ له لیتوالي سره تړلي ول. سکاټلنډي جېمزواټ (۹۱۷۳۶ – ۱۸۱۹) یو تَوښ اینجن *(Steam Engine)* جوړ کړو چې ډېر چټک او کارندهٔ و. د هغهٔ ځواک مېچلو لپاره یې د اس زوَر یا (*Horsepower*) یاوې *(Unit)* هم دوَد کړو. د مشین پېر هغه مهال پیل شو کله چې د برتاینې په ډاربیشایر کښې د تَوښ د ځواک

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د اوسپنې د بټيو تر منځ نيژدېوالي رامنځ ته شو. په دې سره برتاينه د رغااوښتنې *(Industrial Revolution)* منځې *(Centre)* شو. جېمزواټ به ويل، « زموږ هيواد د نړۍ کارهټ *(Workshop)* دي »



**جېمز واټ**




**د جېمز واټ تونبې اينجن**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوٚهنګرده (*Encyclopedie*)

د ليتوالي تر ټوٚلوٚ زياته له كريشمي ډكه زېرنده او اغېزناك يادګار پوٚهنګرده (*Encyclopedie*) وٚ. په لومړي سر كښې دا د ايفرايم چېمبرس د سايكلوپيډيا، چي په ۱۷۲۷ كښې په اېډنبرا كښې خپره شوې وه، د ژباړې او بياكتني په توګه پيل شوه. دېنيس دېدېرو او **ژان لي روند دي الېمبرت** دې كار ته ملا وتړله.




**پوٚهنګرده**

د پوٚهنګردې لومړي ټوک (ټولنګرده، يا د پوٚهني، هونرونوٚ او كارونوٚ د شنني كاموس) په كال ۱۷۵۱ كښې راوَوتلوٚ. په پورې كېدلوٚ يې ۲۰ كاله تېر شول. كله چي بشپړ شوٚ نوٚ ۷۲،۰۰۰ بېلابېلې ليكني او ۲،۵۰۰ انځورونه پكښې ول.

دي المبرت يو شمېرپوٚه وٚ نوٚ ځكه به يې همېش ډېر درناوي كېدلوٚ مګر په ټوٚلنګرده باندي زيات كار د ديدېروٚ لخوا ترسره كېدلوٚ. ديدېروٚ په د ليكوالانوٚ په راپيدا كولوٚ كښې خورا بريالي وٚ. په دغوٚ ليكوالانوٚ كښې د موٚنټېسكوٚ، ولټاير، چارلس دكلوس، روسوٚ، ساموېل فورمي، دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هولباخ، مورلي، اندرې تيوفيل دي بورديو، جاکس دي واکانسمن غوندي فلسفيان هم ول. وروسته له هغه سره چوالير دي جاژکورت (۱۷۰۴ – ۹۹) مرسته پیل کړه چې پخپله تازه د ليتوالي غورځنګ ته راغلي ؤ او يو نهٔ ستومانه کېدونکي مېړني ؤ. هغه د ديدېرؤ غوندي پخپله هم په سلګونؤ ليکنې وکولې او ورسره ورسره به يې د هغې ډلې د کار څارنه هم کوله چې د ليکنؤ په اوډون او سريښتي کښې بوخته وه.



**ژان لي روند دي البمبرت**

## پۉهنوَنـه *(Knowledge Tree)*

دي المبرت چې د پۉهنګردې لپاره کومه لومړنی کښنه وکوله په هغې کښې يې وليکل چې زه به لوستونکؤ ته د پۉهنې د بېلابېلؤ څانګؤ په هکله يوه کتنه وړاندي کم او دا به هم ورته جوته کم چې دغه څانګې څنګه د يوې ونې غوندې په تنه او وليؤ کښې ببرته وبله يو کيږي. دهٔ د دغهٔ کار لپاره هغه انځور وکارولؤ چې پخوا يې بېکن کرښنه *(Diagram)* کړې وه او بيا وروسته چامبر په پخپلي سايکلۉپيډيا کښې اچولي ؤ. المبرت به ويل: د بېکن غوندي زه هم دا باور لرم چې د پۉهنې بېلابېلې څانګې نبغ په نبغه د دماغ له وړتياؤ او ځواکونؤ سره تړلي او اخښلي دي.

مګر سره له دې بيا هم کله کله داسي کېدلاي شي چې زمونږ هۉش او سَدبَد د ريښتينی موندنی لپاره لاره پيدا نه کړاي شي او ناسمه لاره برابر شي. په پۉهنونې کښې د کليسا دوديزؤ اندونؤ ته په درنه سترګه نهٔ کتل کېدل او د پۉهنې په کتار کښې ډېر کښته ځاي ورکړ شوي ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تاریخ «سترترین مېړني » څوک دي؟


المبرت په خپلې لومړنۍ کښنه کښې دا هم ولیکل چې د تاریخ « سترترین مېړني » باچهان او سوبه وال نهٔ دي بلکې پوهان او فلسفیان دي. المبرت وایي چې دغه مېړني د بېکن، ډېکارټ، نیوټن، لاک، ګالیلیو، هاروي، هوینز، پاسکل، فونټېنلې، کوندیلاک، مونټېسکو او روسو غوند کسان دي. دوي وشړل شول او ورټل شول، مګر بیا یې هم د راتلونکي کول لپاره په یوازې سر جګړه وکوله. دوي د خپل همځولي کول لخوا سپک شول مګر نوي کول یې پرځاي او پوره پوره درناوي وکولو.

## د اوستکارۍ، کاریګرۍ او پونګۍ ستاینه او لوینه

په پوهنګرده کښې د کاریګرۍ، اوستکارۍ، میستریتوب، ترکاڼۍ، اوبدني، خټګرۍ او ورسره ورسره د پونګۍ او بنجاریتوب خورا ډېره ستاینه او لوینه وشوه. په پوهنګرده کښې د دغه کار لپاره ځان ته ګوښې یوه پراخه او اوږده برخه ټاکل شوې وه چې سرلیک یې **توکي** *(Material)* وُ. پوهنګردې له ساینسونو او هونرونو سره سره اوستکارۍ، کاریګرۍ، پېښو، دندو او کارَندتوب ته هم پوره پوره پاملرنه وکوله.

دیدېرو، چې پخپله هم د یوهٔ پښ زوي وُ، دغه کار ته ډېره پاملرنه کوله. هغهٔ په ټول فرانس کښې ګرِدوږد او کوز پاس وګرځېدلو او له کاریګرانو، پېښانو، ترکاڼانو او نورو بېلابېلو میستریانو سره به یې مرکې، غورې او اترې کولې او د هغوي د کار او دندې په باره کښې به یې اګاهي راغونډولې. دیدېرو به ویل، « ما به هغوي ته زارۍ او جګۍ کولې چې زما لپاره یوځل خپله ټوله درسته، سامان او اوزار راغونډ کي او زما مخې ته دي یې کښېږدي چې زه یې کرښني (*Drawing*) وکاږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library




پوهنګرده په دې وتوانېدله چې د فرانس اولس ته په ډېره اسانه توګه د کاليو، جوړابو، پيزار جوړولو رانيولې بيا تر ډوډۍ پخولو هر څه ورووښيي. لنډه دا چې داسي هيڅ کار، دنده او پېښه نه وه چې په پوهنګرده کښې يې په هکله اګاهي شته نه وه. تر دې پخوا به ليکنې د داسي کارونو په باره کښې کېدلې چې د وګړو لپاره به يې په ورځني ژوند کښې هيڅ ښَمر نه لرلو. مګر پوهنګردې د ليکنو او کښنو ډَول ډال او لوړي لوډن بېخي بدل کړو.

په پخواني فرانس کښې هم اوستکارانو کاريګرو او ميستريانو ته په ټيټه سترګه کتل. د هغوې هونر ته بېخي د هونر په سترګه نه کېدل. ديدېرو به ويل،

*« څومره بده ده، کوم کسان چې د زياتې ستاينې او لوينې ور دي هغوي ته په ټيټه سترګه کتل کيږي. له يوې خوا موږ غواړو چې هغوي دي په خپلو کارونو او دندو کښې لګيا اوسي او زموږ اړتياوې دي پوره کوي او له بلې خوا ټولنه له هغوي څخه کرکه کوي.»*

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د برې څوکه

د پوهنګردې غوټې او درنو درنو ټوکونو د ټولنې پوړته پوړ باندې خورا ژوره اغېزه کړې وه. په دې باره کښې ولټایر یوه لنډه کیسه ولیکله. دغې کیسې جوته کړه چې پوهنګردې د ټولنې په ودانانو او بډایانو او ان پخپله په باچا باندې څومره غېزه کړه ده. کیسې داسې لیکي:

*« یوه ورځ ماځیکر باچا ، لویي پینځلسم ، له خپلو نیژدې دوستانو سره ډوډۍ خوړله. دوی د ښلا ښلو کیسو او پېښو په باره کښې غږېدل. په دې منځ کښې د ښکار لوبه وچېړل شوه او وریسې یوه پکښې وویل چې د ټوپک باروت څنګه جوړېږي. د باروتو په جوړولو څو هیڅوک نه پوهېدل. باروت څه ډېر نوَر داسې توکي هم ول چې هیچا یې په باره کښې اګاهي نه لرله. د ښلګې په ټوګه د رانې بارخوګان چې په کوم سینګار او سورخي د سرو اننګو په شان نبایسته ول، او د هغې په ښکولو ، سپینو او مهینو لېنګو چې کومې وربښمینې جورابې وې هغې ته پته نه وه چې دا څنګه او له څه څخه جوړېږي.*

*په دې منځ کښې، په دوی کښې یوه کس غږوکولو چې موږ د خپلو پونښتنو ځوابونه یوازې او یوازې په پوهنګردې کښې موندلای شو. چې دا یې واورېدل نو یوه نوکر په زغرده ور ترپ وهل او په تلوار او د په د سترګو په رپ کښې یې پوهنګرده ورته راوړه...*

*په پوهنګردې کښې دوی ژرژر باروت، سورخي سینګار، سرسنه، وربښم ، اوبدنه وموندل. وریسې نو دوی ډله ډله په ښلا ښلو ټوکونو باندې وبله راغونډ شول. لنډه دا چې هرڅه چې د دوی پکار ول هغه پکښې ول. کومو کسانو چې کانون لوستلو هغوی پکښې د کانون په هکله اګاهي وموندله. باچا ته ښیا پکښې د خپلو واکونو په هکله اګاهي څرګنده شوله. کله چې دوی ټول د پاڼو په اړولو اړولو لګیا ول، یوه لوی خان، چې کومتې دي سي نومېدلو، باچا ته وویل:*

*« باداره، موږ ډېر بختَور یو چې ستا په باچهې کښې وګړي د هر هونر او پوهنې زدکړه کوي او ښیا خپله پوهنه راتلونکي کول ته پرېږدي. په دې کښې خو هرڅه شته، د یوې ستنې له جوړولو رانیولې ښیا ستا تر سترو سترو توپونو پورې. هر ډول توکي، له ښېځي کوچني څیز څخه رانیولې ښیا تر ښېځي لوي پورې...*

## په فلسفیانو برید

داسې هم نو نه وه چې د پوهنګردې هرځای هرکلي شوی و. کوم فلسفیان چې دغه ستر کار لګیا ول له ډېرې سختې غندنې او یرغل سره مخامخ ول. د ابلي فریرون، چارلس پالیسوټ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جېکب نیکولس موریؤ غوندي لیکوالانؤ په پؤهنگردې پوري ټؤکي او هنکونه ولیکل او جېسوټي مسهیانؤ بیا تؤر ولگولؤ چي په پؤهنگردې کښي چي هرڅه لیکل شوي دي هغه له نؤرؤ سرچینؤ څخه غلا شوي دي. په کال ۱۷۵۲ کښي د گردپؤهنې د لومړینؤ دوؤ ټوکونؤ له خپرېدلؤ وروسته د فرانس په باچا باندي دا ومنل شول او هغه اړ ایستل شؤ چي په پؤهنگردې باندي چورلټ بندیز ولگوي.

په کال ۱۷۵۷ کښي یوۀ جورنالیسټ چي فرېرؤن نومېدلؤ د بندیزونؤ د څانگي مشر چارواکي، مېلشربر، ته وویل چي ډیدېرؤ یو ډېر چالاک او بدنامۀ کس دي. ورته ویې ویل چي هغه د یوې گډوالي (*Company*) د سرمیر دي او د یوې داسي ټؤلنې مشر دي چي ورځ او شپه په چلونؤ او چلوټؤ لگیا ده.

په کال ۱۷۶۰ کښي پالیسوټ یو هَنک (*Comedy*) ولیکلؤ. د دغه هَنک نوم ؤ، **فلسفلیان**، چي روسؤ یې د یوۀ ځنگلي بیزؤ پۀ بڼه پکښي ښؤدلي ؤ او همدا شان یې هېلویتیس، دیدېرؤ او دکلوس هم د نؤرؤ بؤدَگانؤ په بڼه ښؤدلي ول.

*هغۀ به د دغؤ فلسفیانؤ په هلکه ویل: « دغه د بېلارې شویؤ کسانؤ یوه ټؤله ده چي ساده او وزگارې ښځې تېرې باسي او ډېرې غټې غټې باتې ولي. »*

# د کال ۱۷۵۸ کړکېچ

په کال ۱۷۵۸ کښي دیـ المبرت د پؤهنگردې لپاره د سویس د غوړېدونکي ښار، جنېوا، چي په هغۀ وخت کښي ځان ته یو دولت ؤ، په هلکه یوه لیکنه وکوله. په دغې لیکنې کښي هغۀ ویل چي که په جینېوا کښي له تیاتر څخه بندیز پورته شي نؤ دا به ډېر ښه کار وي. په همدغې لیکنې کښي هغه د دغه ښار د ملایانؤ او شیخانؤ په وچؤ وچؤ او بېخوندؤ بندیزونؤ هم نیوکې وکولې. دغؤ نیوکؤ په فرانس کښي هم دیندوسته کسان هم راوَپارول او پاي دا شؤ چي پارلیمان پؤهنگرده ناکانونه کړه.

المبرت، چي د پؤهنگردې سرېښته گر یا (*Editor*) ؤ، اړ شؤ چي له خپلې دندې لاس په سر شي. له هغه وروسته نؤ ټؤله چاره د ښاغلي دیدېدرؤ په غاړه شوه.

په کال ۱۷۵۸ کښي چي د هېلوېتیس په لیکنې ، اروا، باندي کوم شؤر را پؤرته شؤ او په دا بل کال چي د دیدېرؤ په پؤهنگردې باندي کوم بندیز ولگېدلؤ هغؤ فلسفیانؤ ته د تاوان په ځاي گټه ورسوله. ولټایر چي هرڅومره چیغې او سورې هغوي ته ووهلې چي په یوه گوند کښي دي وَبله راټؤل شي مگر راغوند نۀ شول. مگر اوس چي د دوښمنانؤ لخوا ورباندي زؤرنه (*Pressure*) راغله هغوي بله لاره نۀ لرله بلکې اړل ول چي وَبله یو شي. غندونکؤ هغوي د تباه کولؤ په ځاي لا نؤر هم ځواکمن کړل.

# مالېشېربېس – یا « مؤنسیور گیلاومې»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنګردې ليکوالان ډېر بختور ول چي کله کړکېچ د دوي ټوله کار او زيار له تباهۍ سره مخامخ کړۀ په همهاله مهال د دوي يو ملګري، **مالېشېربېس،** ته د خپل پلار، چي د فرانس نوي چانسلر ؤ، لخوا د بنديز څانګې، (*censorship*)، مشر وټاکل شوۀ. **چرېټين – ګيلاومې لاموۀيګنوۀن دې مالېشېربېس،** (۱۷۲۱ – ۹۴) د يوۀ ازاد انديال په توګله يوه اوږده او ځلېدلې دنده ترسره کړه ځکه چي پخپله يو ډېر باتور ليتوال هم ؤ. که چيري **مالېشېربېس** نه واي نوّ د پوهنګردې ليکونکوۀ به هيڅکله دومره زړَورتيا هم نۀ وه کړې ان چي خپل اند او سوۀچ پرګنوۀ ته څرګند کي. **مالېشېربېس** به په خپله هم ويل، « ما د يوۀ وخت لپاره د فرانس په بنديزڅانګه کښې دنده ترسره کوله. خو ما به ازادې وينا او ازاد سوۀچ کلکه او پخه ګروۀهه لرله. ډېر کله داسي هم وشول چي **مالېشېربېس** به ديدېروۀ او دي المبرت ته د پردې له شا په پټه پټه پنا ورکول او هغوي به يې ژغورل. کله چي په کال ۱۷۵۲ کښې يوې شاهي وايې (*Decree*) د پوهنګردې په لومړنيوۀ دوۀ ټوکونوۀ بنديز ولګولوۀ او د هغې د نوۀرو ناچاپه برخوۀ د ولکه کولوۀ لټون يې پيل کړوۀ، نوۀ **مالېشېربېس** ته بلنه ورکړه چي خپل ټوۀل ليکلي توکي په خوندي ترين ځاي کښې پټ کي. او دا خوندي ترين ځاي د **مالېشېربېس** خپل کوۀر ؤ.



**مالېشېربېس**

# د باچا لپاره او د باچا په چپه

کله چي په کال ۱۷۷۱ کښې باچا پارليمان د کانون رغونې له واک څخه بېبرخې کړوۀ او پرځاي يې خپله « هسکينه جرګه » يا (*Superior Council*) وټاکله په هغې باندې **مالېشېربېس** خورا وَخشمېدلوۀ او په پرځاي يې د ټوۀل ميلت جرګه راوبلله. د لرغونې واکمنې په وروستيوۀ کلونوۀ کښې چي هغه د سَمَونوۀ لپاره کومې هلې ځلې ترسره کړې او کومې ستړيې چي يې وکولې د هغه نوم هم د فرانس په هغوۀ کسان کښې ياد شوۀ چي اولس به ډېره زياته مينه ورسره کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په کال ۱۷۷۵ کښې د باچا، لوي شپاړسم، په وزیرانو کښې یو وزیر شو. که څه هم هغه د شاهي کورنۍ خسمانګر و مګر بیا به یې هم پخپله ډېرساده کالي اغوستل. هغه ډېر لېوال و چې په چوڃ (*Economy*) کښې سَمون راولي. مګر کله چې پوه شو چې شاهي دربار هیڅ ډول سمون نهٔ خوښوي نو هغه پخپله له سرکاره ګوښه شو.

## د مؤنسیور ګیلاومې هپې (*Adventures*)

**مالېشېربېس** چې کله له سرکاره ګوښه شو نو یې د چورت او اند خپلواکي لا زیاته څواکمنه شوه. اوس نو هغه ښه پوره وخت لرلو چې له کومه کاره سره یې زیاته مینه لرله همغه کار ته ډېر ډېر وکوي. او دا کار و بوټپوهنه (*Botany*) چې دي ببخي پرې مین و.

کله چې هغه په خپل کور کښې ګوښې ژوند غوره کړو نو یې هلته د فرانس تر ټولو ښکلي او لوي باغ وکرلو او ورسره ورسره یې د بوټپوهنې په باره کښې څلوېښت بېلابېل ټوکه ولیکل.

په کال ۱۷۷۱ کښې د **مالېشېربېس** ماندینې له کور سره نیژدې په ځنګله کښې په خپله ځان په ټوپک وَوژلو.

**مالېشېربېس** دا پخه او ټینګه ګروهه لرله چې د باچا په ګډون هر وګړي دي کانون ته غاړه کښېږدي او هم دي د کانون له ګټو او ښَمره برخَمن شي. هغه به ویل، « د همدې ګروهې له کبله له اوښتنې (*Revolution*) وروسته زه بېرته هیواد ته راستون شوم چې د پخواني باچا کانوني ژغورندوي (*Defence lawyer*) شم. مګر د دغه کار پایله دا شوه چې پخپله د **مالېشېربېس** هم په تخته دار (Guillotine) باندي غوڅ کړ شو.

## دېنیس دیدېرو

**دیدېرو** چې د لیکلوست او هونر کومه لاره نیوله وه هغه یې پلار ته یو ګډوډ او بې سرېښتې کار برېښېدلو. مګر پخپله **دیدېرو** هم خپل ځان یو لیکوال او هونرمند ښکاره کېدلو او هم یې د خپل پلار، چې یو تکړه کاریګر و، ډېر درناوي کولو. هغه په دې ګروهه و چې لیکوالي پخپله یو کار او پېښه ده چې خورا زیات ربړ او کارنده تؤب غواړي.

په دیدېرو خپله یوه خور ډېره ګرانه وه چې مخ یې د یوې نارؤغۍ له لاسه بیخوله شوي او هروخت به یې پزې باندي یو پوښ اغوستلو. له همدې کبله هغه د ټؤل ژوند لپاره ستۍ یا بېواده پاته شوې وه. یو بله خور یې، چې انګلیکه نومېدله، په خپله خوښه راهیبه شوه. مګر هغه وروسته لېونۍ شوه او بیا ډېره ژر په ۲۸ کلنۍ کښې مړه هم شوه. د هغه یو ورؤر چې دیدیَر نومېدلو لومړي په کلیسا کښې ابې شو او بیا **کانون** شو.

هغه به د خپل ورؤر په باره کښې ویل: « *مسیهیان چې کوم څیز ته ښه ایوانجېلیکي (Evangelical) وایي **هغه** هیڅ هم نهٔ دي بلکې د بد بوي او وروستوالي یو **چل** دي. دیدیَر به یو ښه ملګري او یو ښه ورؤر و که کلیسا د هغهٔ د خوي دا ښه اړخونه تر پښو نهٔ واي لاندي کړي*»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مینې پټ تاریخ

په کال ۱۷۴۲ کښې دیدېرؤ له نېستمنې مګر ډېرې ښکولې انتونې چامپیون سره په پټه وادهٔ وکولؤ ځکه چې د هغهٔ د پلار خوښه نهٔ وه. د دوې نؤر ټؤل زاړهٔ (اولادونه) کمکلي مړهٔ شول مګر یوازې یو زوې، چې انجیلیک نومېدلؤ، ژوندې پاته شؤ او ابلؤغ (بالغ) شؤ. د هغهٔ د نؤرؤ دؤستانؤ په اند، میمه دیددېرؤ یوه نازکه نهٔ بلکې یوهٔ شؤخه او سرابښه ښځه وه. مګر پخپله دیدېرؤ له هغې سره ترپایه وفا پاللـه.

په کال ۱۷۵۵ کښې هغه د مینې یو ځل بیا په مینې کښې لاهو شؤ کله چې یې په سوفې ولاند باندې زړه وبایللؤ. هغهٔ به د هغې په باره کښې داسې ویل، « د نؤرؤ کسانؤ په اند دا یوه ۴۰ کلنه ستې (ناواده شوې) ښځه ده. خو زه په سوفې کښې د یوهٔ نارینه او یوې ښځمنې ټؤل ښه خویونه او کړهٔ وړهٔ وینم. هغه چې کله هم وغواړې نؤ یو نارینه یا مېرمنه کېدلاې شي.»

هغهٔ به د هغې سپین او نېغ ویل ډېر خوښول. د هغوې دواړؤ تر منځ پاو پېړۍ (۲۵ کاله) ټینګه مینه وه کله چې هغه په ۶۸ کلنۍ کښې مړه شوه.

**دیدېرؤ د هغې په مړینې ډېر ویرژن ؤ او ویل به یې،** *« اروا د یوې غارې په شان ده، چرته چې ښه او بد دواړه ډوله ژوې اوسي. بد کسان د دغې غارې خولبوې لرې کوې او بد ژوې ورځخه راخوشي کوي. مګر ښه کسان بیا اپوټه یوازې ښه ژوې ورځخه راخوشي کوي.»*

## دیدېرؤ او د هغهٔ دؤستان

دیدېرؤ به ویل: « زه یو ډېر ژبه ور او بیانګر اینسان پیدا شوې یم.» هغهٔ یو دومره زیات هوسناک کس ؤ چې خپل ځان یې هېر ؤ. هر څه یې خوښېدل او ورسر مینه یې ښؤدله او هم یې تر ډېره بریده د هرڅه په باره کښې یوه کسنه (*Theory*) هم لرله. ټؤلؤ به ویل چې دیدېرؤ یو نهٔ درېدونکې غږندوې دي. کله چې یوه کیسه وچېړل شي نؤ هغهٔ په پرلپسې تؤګه د کوټې په نس کښې ګرځې راګرځي د خپل سروېښتان په ګوتؤ کښې مروړي او ږغیږي.

هغهٔ به ویل:

*« زه چې هرڅه کوم، لولم، غبرګون ښیم، لیکم، په چورت کښې ډوبېږم، اورم، ګورم او هؤښ کوم دا ټؤل یوازې او یوازې د خپلؤ ملګرؤ او دوستانؤ لپاره کوم. که له ما سره نهٔ هم وي بیا هم زما ټؤله مینه او تپاک د هغوې لپاره وي. زه په پرلپسې تؤګه د هغوې د خوشالۍ چورتونه وهم... ما خپل ټؤل سَدبَد او خپلې ټؤلې وړتیاوې تر هغوې ځار کړې دي؛ نؤ ځکه خو کله چې زه ږغا کوم او یا د یو څه*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*په اړوند خپله انځورنه نېيم نۀ يو څه نا څه زياتوالي پکښې وي چي کله کله خو بيې زما دغه نامنندويه دؤستان ما ته پېغؤر هم راکوي.*

## پؤهنګرده څه ده؟

ديدېرؤ په خپلې يوې نامتو ليکنې کښې چي سرليک يې ؤ، «پؤهنګرده »، و ليکل:

*«Encycloypedie د يوناني ژبې ټکي دي چي مانا يې ده، « د ګردې پؤهنې ترمنځ تړاو ». د مځکې پرمخ چي څومره پؤهنه شيندلې او لوستې پرته ده موږ غواړو چي هغه ټؤله په پؤهنګرده کښې راغونډه کو او لواړه (general) پوله پټې او جوړښت يې هغؤ اينسانانؤ ته وړاندي کو چي په دې پېر کښې له موږ سره يو ځاي ژوند کوي او هم يې وَهغؤ کولونؤ ته پرېږدو چي موږ وروسته ژواک کوي. په دې تؤګه به د تېرؤ پېړيؤ پؤهه د راتلونکؤ پېړيؤ په ښَمر هم ورشي.*

*يوازي په يوۀ فلسفي پېر کښې دا هڅه کېدلاي شي چي پؤهنګرده وليکل شي... پکار ده چي د هر څيز ولټول شي، رېغا ورباندي وشي او د چا خونښه که يې نۀ وي پکار ده چي څېړنه ترسره شي ... پکار ده چي موږ هغه ټؤل ځنډونه ونړوو چي بنسټ يې په ريښتينې نۀ وي ولاړ، او هونر ونؤ او پؤهنې ته بېرته هغه ازادي او خپلواکي ورکوي چي بل هرڅه ګرانبها ده.*

*مخکينۍ پېړۍ خو چي څومره وس لرلؤ هغومره يې پؤهنه پرمخ بؤ هم تله. .. اوس نؤ زموږ د پېړۍ وار دي چي د دوي ټؤلې برياوې وبله راتؤلې کو او په يوې پېکرې کښې يې واچوو او بيا يې راتلونکې کول ته پرېږدو.»*

## ژان ژاک روسؤ (۱۷۱۲ ــ ۷۸)

روسؤ پيدا شوي ؤ د سويس په جېنيوا کښې چي هغه پخپله ځان ته يو داسي کوچني ښاري اولسي دولت ؤ چي شاوخوا لؤيې کاتوليکي نوابۍ، سرداري او باچهۍ پرتې وې. د روسؤ مؤر د هغۀ تر زؤکړې لږ وروسته مړه شوه. هغۀ کومه دستوري زدکړه نۀ کړله ترسره. په ۱۵ کلنۍ کښې يوې کاتوليکي نوابي، مېرمن وارېنس، هغۀ ځکه تر خپلې پالنې لاندي ونيولؤ د هغۀ خپلې زدکړې پوره کي او کوندي کاتوليکي ګرؤهې ته واوړي.

وروسته هغۀ پاريس ته ولاړؤ او هلته يې له ديدېرؤ سره وليدل. هغۀ پخپله ليکي، « کله چي زه په کال ۱۷۴۱ کښې پاريس ته راغلم نؤ ما په يوۀ سماوار کښې له ديدېرؤ سره وليدل چېرته چي موږ دواړه د شترنج يوې لندارې ته ورغلي وو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسؤ به د پؤهنګردي لپاره ليکنې کولې. يوه ليکنې يې د سياسي چؤچ *(political economy)* په باره کښې وه. د موسيکي په هکله يې بېلابېلې ليکنې وکولې. ډېر ژر روسؤ د پاريس د ساهو انديالانؤ په کړيؤ کښې ومنل شؤ، او ځايي فلسفيانؤ به ويل چي دي هم د هغوي له ټؤلي څخه يو کس دي.

# د روسؤ چېلنج

روسؤ په خپلې لومړنۍ ستريې ليکنې، د هونرونؤ او پؤهنؤ په هکله څرګندونه يا *(The Discourse on the Arts and Sciences)* (۱۷۴۹) کښې د ليتوالي د بنسټي ارونؤ سره ډغره ووهله او چورت او اند يوه داسي لاره يې غوره کړه چي وروسته چي د هغۀ په ټؤلؤ وروستنيؤ ليکنؤ کښې ځليږي.

وروسي د روسؤ په خپلې يوې بلې ستريې ليکنې ، د نابرابرۍ پيل يا *(The origin of inequality)* (۱۷۵۵) کښې هم

ددې کتاب نورې برخې به ژر خپرې شي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**